په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستې هیئت

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۰۰۳۹ ۰۸۳۱ ۲۴ ۶۱۲۱ – ۰۰۹۳ ۲۰ ۲۹۷ ۶۱۲۱
بریښنا لیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پاڼه: www.unama-afg.org

## په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د خاص استازی کای آیده وینا

"په کندز کې د پرون ورځې د یوه ځانمرګی بمي برید له کبله د پنځو ماشومانو وژل کیدل، کوم رپوټونه چې په کندهار کې د سرونو د غوځولو او ژوندانه له لاسه ورکولو په باب ماته رسیدلی د هیواد په ګوټ ګوټ کې د بې ګناه افغانانو تښتونې او په کابل کې د یوې بهرنۍ کارکوونکی وژل کیدل، دا ټول زما لپاره یوه ډیره ستره اندیښنه ده.

"ما په دا تیرو میاشتو کې ډیر ځلی د جګړې په دوران کې د ملکیانو د ساتنې په اړتیا باندې ټینګار کړی دی. په دغو پیښو کې هیڅ جګړه نه وه. د دا ډول بریدونو موخه په پراخو پرګنو کې د ویرې خپرول دی. زه ټول داسې بریدونه په کلکه غندم.

"زما فکر او خواخوږې او د ټولو هغو کسانو فکرونه چې د ملګرو ملتونو لپاره په افغانستان کې کار کوي، د هغو کسانو له کورنیو او دوستانو سره دی چې وژل شوی او له هغو سره چې خپل ګران کسان یې لا ورک دي."

کابل، د اکتوبر ۲۱، ۲۰۰۸

---